مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر
۲۰۲۳/۰۶/۲۸

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه

(پنځلسمه برخه)

## تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله عبدالله (۸)

### د ولسمشرۍ د لوړې مراسم (۲۰۱۹ز)

د کب په ۱۹مه نېټه د افغانستان د سترې محکمې رییس قاضي القضات محمد یوسف حلیم لخوا په ارګ کې ولسمشر اشرف غني ته لوړه ورکړای شوه. د اشرف غني د لوړې د مراسمو سره سم، د سپیدار په ماڼۍ کې عبدالله خپل ځان په یوې رابلل شوي غونډه کې د افغانستان د قوانینو پر خلاف، د یو موازي حکومت ولسمشر اعلان کړ. لکه چې پوهیږو د افغانستان انتخابي ولسمشرانو ته د ولسمشرۍ په مراسمو کې د هېواد د سترې محکمې د رییس له خوا لوړه ورکول کیږي خو عبدالله د ځان په خبر یو بې مسؤلیته ملا، شهزاده شاهد (چې ویل کیږي عبدالله نوموړي ملا ته ډېرې پیسي ورکړي وې) د ولسمشرۍ د لوړې ورکولو په موخه وربللی ؤ، ملا صاحب چې پوهیده عبدالله ته د لوړې ورکول یو احمقانه کار دی، د عبدالله په څېر د خپل ناروا عمل له امله تر اغېز لاندې راغلی ؤ او په غږ کې یې ښکاره بدلون لیدل کیده، دغه ملا، عبدالله ته په داسې حال کې لوړه ورکړه چې عبدالله پر قرآن عظیم لاس ایښی ؤ:

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم. د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه وکړم.**
**د افغانستان د خپلواکی، ملي واکمنی، ځمکنی بشپړتیا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای (ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایی په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم.**

**عبدالله چې د لوړې کولو پر مهال یې پر قرآن کریم لاس ایښی ؤ، د کلام الله مجید پر وړاندې یې څو ډوله دروغ وویل** او هغه الفاظ یې چې په لوړه کې تکرار کړل، په حقیقت کې د لوړې پر خلاف وو، داسې چې عبدالله وویل:**«... د اسلام د سپیڅلي دین پیروي او ساتنه [به] وکړم.»** خو عبدالله د دین پیروي ونه کړه، د قرآن د نساء سورت ۵۸ آیت چې په خپله یې په غونډه کې ولوست پرخلاف عمل وکړ، د ولسمشرۍ د مسؤلیت امانت یې اهل (ولسمشر اشرف غني) ته ونه سپاره چې له عبدالله یې ډېرې رایې وړي وې او ځان یې په کې شریک کړ.

**۲ـ د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه [به] وکړم.** د عبدالله دا عمل چې د افغان حکومت تر څنګ یې بل موازي حکومت اعلان کړ د اساسي قانون، انتخاباتو او نورو قوانینو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خلاف عمل دی، نه یوازې اساسي قانون او نور قوانین یې رعایت او پلي نه کړل، بلکې د هېواد اساسي قانون او نور قوانین یې تر پښو لاندې کړل.

**۳ـ د افغانستان د خپلواکی، ملي واکمنی، ځکمنی بشپړتیا ساتنه [به کوي.]** ټول افغان ولس شاهد دی چې عبدالله او د جمعیت باند د افغانستان د خپلواکی، ملي واکمنی، ځمکنی بشپړتیا، په اشغال کې له اشغالګرو سره اوږه په اوږه ولاړ وو، د عبدالله د لوړې پر مهال په افغانستان کې اشغالګرو ځواکونو عملاً شتون درلود.

**۴ـ د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې [به] خوندي کړم.** عبدالله د تېرو شلو کلونو په اوږدو کې یوازې د خپل ځان او خپل باند ګټې خوندي کړي دي، نوموړي په خپلو کړنو سره افغان ملت ته نه جبرانیدونکي زیانونه رسولي دي، په ځانګړې توګه کله چې هغه ځان ولسمشر اعلان کړ په دې کار سره یې د افغانانو حقوق او ګټې له خاورو سره خاورې کړې.

**۵ـ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایی په لاره کې [به] خپلې هڅې جاري وساتم.** عبدالله له آره د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایني په لار کې لوی خنډ ؤ، د هغه هڅې مو ولیدې چې په خپلو هڅو یې حکومت کمزوری او د جمهوریت د سقوط لاره یې هواره کړه.

وروسته د لوړې له مراسمو، عبدالله د ماشومانو په څېر، د خپلو پلویانو پر وړاندې د افغانستان د اساسي قانون خلاف، د ده په خبره: **(رییس جمهور همه شمول)** وباله، د دغو خندوونکو او حیرانوونکو مراسمو په غونډه کې د عبدالله مخې ته د مېز پر سر قرآن کریم اېښودل شوی ؤ، دا مهال نوموړی د خپل وجدان تر تهدید لاندې ؤ، **د خپل ناروا او ناوړه کړنو له امله چې د قرآن پر وړاندې یې ترسره کولې، تر اغېز لاندې راغلی ؤ، خولې شوی ؤ، توخیده او پزه یې بهیدله، تودې اوبه او د پزې د پاکولو کاغذنو غوښتنه یې کوله.**

وروسته د لوړې له مراسمو، عبدالله د خپلو خبرو په سر کې د قرآن کریم د نساء سورت ۵۸ آیت نیمه برخه پرته له ژباړې ولوست:

**﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾**

ژباړه:«الله تاسو ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو په منځ کې پرېکړه کوی، نو په عدالت سره یې وکړئ.»

پورته آیت شریف په حقیقت کې عبدالله ته متوجه دی، داسې چې د افغانستان د ولسمشرۍ مقام یو امانت دی، باید وړ کس ته ورسپارل شوی وای چې نسبت عبدالله ته، وړ کس اشرف غني ؤ چې په ټاکنو کې یې له عبدالله ډېرې رایې ګټلې وې، له بل پلوه عبدالله د ولسمشرۍ اهلیت نه درلود، عبدالله د ولسمشرۍ دا لوی امانت د امریکایانو او خپلې نااهلې ډلې په ټینګار غوښت.

په غونډه کې عبدالله تر پایه خپله وینا د کاغذ له مخې وکړه چې د هغه د کمزوري شخصیت او وینا څرګندونه یې کوله، نوموړي د خپلو خبرو په اوږدو کې وویل که موږ په ۲۰۱۴، کال کې د ملي ثبات او ملي وحدت لپاره مصلحت نه وای منلی نو هېواد به د بحران پرلور تللی ؤ خو اوس مهال موضوع برعکس ده... که دا ځل مو د تقلب پایلې منلې وای د دیموکراسۍ فاتحه به اخیستل شوې وای.

عبدالله چې له آره په درغلیو کې لوی شوی دی او کسب کار یې درغلی او دروغ ویل دي، همدا د ولسمشرۍ د لوړې په نوم غونډه یې هم جعلي جوړه کړې وه. **دا ځل عبدالله دروغو او درغلیو ته په**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولۍ

**داسي حال کې مخه کړي وه چې يو لاس يې پر قرآن مجيد ايښی ؤ!** چې هماغه قرآن عظيم ووهلو چې اوس مهال په دې نړۍ کې د برزخ په حالت کې اوسيږي، نه جنت ته تللی شي نه دوزخ ته.

د يادولو ده چې د دواړو غونډو پر مهال د کابل د تهيه مسکن له سيمې څو توغندي وتوغول شول چې له امله يې په غونډو کې ګډوډۍ رامنځ ته کړې.

رښتيا هم عبدالله د موازي حکومت په اعلانولو سره اشرف غني او د ده ډله وډاره کړه چې ګواکې آسمان به پرې راوغورځوي خو اشرف غني او ملګري يې نه پوهيدل چې د عبدالله اعلان شوی حکومت د ماشومانو د لوبو په څېر يوه بې مانا لوبه ده چې دا ډول هوايي حکومتونه کوم اغېز نه لري.

اشرف غني د ۲۰۱۴ز، او ۲۰۱۹ز، کلونو په ټاکنو کې نارې وهلې چې دوه سری حکومت نه غواړي او سهامي شرکت نه جوړوي خو د خپلو ژمنو خلاف يې په دواړو دورو کې دوه سري حکومتونه ومنل. (لکه وړاندې مو چې ولوستل، د دا ډول سهامي حکومتونو (شرکتونو) نظريه په خپله مفکر صاحب وړاندې کړې وه.)

که له يوې خوا د دوه سري حکومت نظريه د اشرف غني له خوا رامنځ ته شوي وه له بل پلوه اشرف غني د عبدالله او امريکايانو پر وړاندې ټينګ دريځ نه درلود، اشرف غني د امريکايانو او عبدالله د لږ فشار پر وړاندې، په لږ وخت کې، ورانوونکي جوړ جاړي ته راضي شو، هغه وو چې په کابل کې د امريکا سفير (جان بس) د ۲۰۱۴ز، کال د ټاکنو په شان، د امريکا د بهرنيو چارو پخواني وزير جان کيري رول ترسره کړ چې له امله يې يو ځل بيا، له تېر حکومته هم کمزوری حکومت رامنځ ته کړ.

په پای کې اشرف غني او عبدالله د غوايي مياشتي په ۲۸مه نېټه يو ناولی سياسي هوکړه ليک لاس ليک کړ، په هوکړه ليک کې د نورو اړخونو تر څنګ: اشرف غني ولسمشر، عبدالله د سولې د عالي شورا رييس، سره د پنځو معاونينو چې ټول به د عبدالله له ټيم څخه وي.

په هوکړه ليک کې راغلي وو چې د سولې عالي شورا به په بين المللي او سيمه ييزه کچه د سولې ملي ټولنه جوړوي؛ د سولې د پرمختګ په موخه به نړېوال ملاتړ او مرستې راجلبوي.

په هوکړه ليک کې د سولې له پخوانيو مشرانو: برهان الدين رباني، د رباني زوی صلاح الدين رباني، پير سيد احمد ګيلاني او کريم خليلي چې په دې لاره کې يې زحمتونه ګاللي دي(؟) درناوی کيږي.

عبدالله ته د سولې د عالي شورا رياست تر څنګ، په کابينه کې د ځينو مهمو وزارتونو په ګډون، په سلو کې ۵۰ ونډه هم ورکړای شوه. په هوکړه ليک کې ويل شوي وو چې ټاکنې به د اهليت او شايسته سالارۍ پر بنسټ ترسره کيږي.

دا هوکړه هم شوي وه چې سترجنرال عبدالرشيد دوستم ته به ولسمشر غني د مارشالۍ د رتبې فرمان ورکوي او د دولت د عالي شورا او د ملي امنيت شورا غړيتوب به هم ولري.

په دې ترتيب عبدالله له اشرف غني سره ځان په واک کې شريک کړ، په واک کې د عبدالله شريکول داسې ؤ لکه يو کس چې په جومات کې د ملا امام او نورو کليوالو پر وړاندې اودس مات شوی ؤ، دغه سړي چې د ژغورلو بله چاره نه درلوده، په څنګ کې يې پر يو بل سړي دعوه وکړه، دواړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کسان په لفظي شخړه کې ښکېل شول او پر یو بل یې د کړي عمل تور پورې کاوه. په پای کې ملا صاحب وویل: پورته شئ، دواړه اودسونه وکړئ.
دغه کسان د ملا صاحب د امر سره سم پورته شول نو کله چې له جوماته ووتل، اصلي کس چې اودس یې مات شوی ؤ، هغه بل بې قصوره سړي ته وویل: څنګه شوی (ت...) مې درسره نیم کړ که نه؟

[د ډاکټر عبدالله د ولسمشرۍ د لوړې مراسمو ځیني برخې په دې لېنک کې وګورئ:](https://youtu.be/H_Jw5EpTkfk)

[https://youtu.be/H_Jw5EpTkfk](https://youtu.be/H_Jw5EpTkfk)



(اشرف غني او عبدالله د جمهوریت د ورانوونکي هوکړه لیک د لاس لیک په حال کې)

نیټه:۱۴۰۲/۴/۶ل. ل

**نور بیا**

[د لیکوال: آرشیف]()


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ